ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-27

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ډاکټرنصيب الله سيماب**

پروفیسر،ډيپارتمنټ آف پښتو يونيورسټي آف بلوچستان کوئيټه

# د ادب جواز

**Dr. Naseeb Ullah Semab***
Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

***Corresponding Author:**

## Justification of Literature

Internally, man has a world inside himself. This world is his own. He adjusts it according to his pleasure. He gives it the colors of his pleasure. However, the inner world of man in another language, we call it the imaginary world. It has a different color from the real world or the external world. In this inner world of man, have his own thoughts, ideas, and concepts. He has realized that he is very different from the outside world. What is bitter in the outside world becomes sweeter in his inner world. This imaginary world of man is made in the light of human psychology. It is as if a new human being, when he enters this world, falls into a special psychological quality. From these internal qualities, a person gets psychological pleasure. Humans have common instincts. Instinct is the force that affects a person. It is not based on skills. These skills become on the basis of a person's personality in the form of human behavior. These instincts are sex, hunger, thirst, love, mother's love, father's love, and desires and so on. Scholars say that all these instincts are the common heritage of all human beings regardless of race or color. It is the inner instincts of man that create the license of literature. Man is forced to express his desires and wishes in such a way that he looks beautiful in the society. If he does not do it, he will not be accepted in the society. This is not what he is doing for the society, but he is doing it for his own psychological comfort. This psychological comfort is expressed.

**Key Words:** *Litreary Justification, Imaginary World, Human Psychology.*

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-27

په داخلي توګه انسان په خپل داخل کې ځان له يوهٔ دنيا لري.دا دنيا د ده خپله ده.دی يې د خپلې خوښې سره سمه سازوي.د خپلې خوښې رنګونه ورکوي.ګو که د ده دا دنيا د خارجي يعني معروض په مرسته جوړ شوې ده خو د انسان داخلي دنيا په بله ژبه موږ ورته خيالي نړۍ وواېو.د حقيقي نړۍ يا خارجي دنيا څخه بيل رنګ لري.د انسان په دې داخلي نړۍ کې د ده خپل خيالات،افکار،تصورات خپل يو داسي صورت مونډلی وي يوهٔ داسي بڼه يې خپله کړې وي چې هغه د خارجي نړۍ څخه ډېر زيات تفاوت لري.په خارجي دنيا کې چې کوم څه تراخه دي هغه د ده په داخلي نړۍ کې خواږه شي خوندور شي.د انسان دا خيالي نړۍ د انسان د نفسياتو په رڼا کې جوړه شوې وي څکه نوانسان چي کله دې نړۍ ته داخل شي نو په يو خاص نفسياتي کيفيت کې ولوېږي.له دې داخلي کيفياتو څخه انسان نفسياتي حظ (خوند) تر لاسه کوي.په انسانانو کې جبلتونه مشترک دي.جبلت هغه قوت دی چي د انسان پر وهبي صلاحيتو باندي اړا نه لري.دا وهبي صلاحيت د انساني کردار په بڼه کې د يوهٔ انسان د شخصيت اساس ګرځي.دا جبلتونه لکه جنس،لوږه،تنده،مينه،د مور مينه، د پلار مينه، خوائشونه او داسي نور.يوهان وائي چي دا ټول جبلتونه په ټولو انسانانو کې د رنګ و نسل پرته د انسانانو مشترک ميراث دی.

> "زموږ جذبات او احساسات په اصل کې د دې جبلتونه ارفع (د لوړي درجي،صفا،ښائسته) ترقي کونکي ارتفاعي صورتونه دي لکه چي د عشق اساس پر جنس باندي پروت دی.دا رنګه د نورو جبلتونو مطالعه هم کيدای شي.(سليم اختر.18)"

د انسان دا داخلي جبلتونه دي چي د ادب جواز رامنځ ته کوي. انسان مجبوره کوي چي د خپلو ارمانونو،خواهشونو اظهار په داسي انداز کې وکړي چي هغه په ټولنه کې ښکلي په نظر راشي.د لوړي درجي وګرځي.د ټولني د تهذيبي مزاج مطابق وي.که داسي و نه کړي يعني د ټولني د مزاج مطابق ښکلا ور نه کړي په ټولنه کې د قبول وړ نه ګرځي.دا داسي نه چي دی د ټولني لپاره کوي بلکې خپل نفسياتي تسکين په کوي.د ده دا نفسياتي تسکين په اظهار کې دی.

> "د تخليقي عمل څخه چي ليکوال کومه اسودګي تر لاسه کوي له هغه څخهٔ د هغه په شخصيت کې د يو خاص رنګه نفسياتي مطابقت پيدا کيږي.
> (ائي اې رچرډز(The Meaning of meaning)"

دا خو هغه رايه ده چي د اروا پوهني په رڼا کې ورکول کيږي.يونانيان بيا بله خبره کوي هغه فنون لطيفه د يو خاص قوت چي دوی يې دېوي بولي د هغوی مرهون منت ګڼي.دې دېوي ته دوی (Muse) ميوز ويل.د دوی په نيز د دې دېويانوشمېرنهه (9) دی.چي پر چا به مهربانه شوې پر هغه به يې خپله سايه

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-27



وکړه دا رنګه به د هغه تخليقي صلاحيت راوېښ شو.د نړۍ لومړی شاعر هومر هم په دې عقيده ؤ.هغه په خپله شاعري کښې په لومړي سر کې د دوی ښځه خواست کوي چي روحاني فيض وربانډي وکړي.افلاطون هم د دې نظريې قائله دی چې دا د روحاني قوتونه شاخسانه ده.او شاعران د هغه قوتونو ترجمانان دي.خو ارسطو له دې نظر سره اختلاف کوي تخليقي صلاحيت له روحاني قوتونو سره نه تړي بلکې هغه دا د فطرت نقل بولي په بوطيقا کې هغه ليکي.

> " نقل کول له کوشني والي څخه د انسان جبلت دی
> ځکه خو انسان له نورو ځناور څخه لوړ دی چي هغه تر ټولو
> لوی نقال دی.له دې جبلت له لاري هغه لومړۍ رد سکړي تر
> لاسه کوي.دا رنګه ټول خلګ په قدرتي توګه له نقل څخه خوند
> اخلي يا خوند تر لاسه کوي.(ارسطو،بوطيقا،ژباړه: عزيز
> احمد.39)"

ارسطو په خپل کتاب کې چي د ټرېجډي په اړه کومه خبره کوي هغه دا ده چي ادب د ټرېجډۍ په بڼه کې دا وړتيا لري چي د انسان داخل دي تزکيه کړي يعني پاک دې کړي.اوس چي پر دې خبرو نظر واچوو نو موږ ته د ادب د جواز په اړه دوې نظريې يا دوۀ فکرونه په نظر راځي.د دې دواړو نظريو بنياد له يونان څخه راپورته کيږي او د نړۍ په ټول ادب کې هم دا دوې نظريې موږ لولو.يو نظر د افلاطون چي عيني يا مابعد الطبعي وبلل شو،او بله د ارسطو نظريه ده چي حقيقت خوښونکو خلګو خوښه کړه او هغه الهامي نظريه يې رده کړه چي په يوناني ادب کي يې د شاعرۍ يا تخليق په اړه شتون درلود.کله چي علم پرمختګ وکړی هر شاخ يې ځان له نوي نوي لاري ولټولې او نړۍ يې د سائنسي پر مختګ سره يوځای کړه.ډېرو زړو نظريو د علم په هر ډګر کښي خپل سر وخواړی.د خلګو د سوچ زاويې هم بدلي شوې.هغوی اوس تش په خيالي خبرو يقين کول پرېښودل. په دې بهير کي د اروا‌پوهني (نفسيات)علم هم ډېر مخ ته ولاړی.په اروا‌پوهنه کي د فرايډ نظريات پر ادب باندي خپل اغيز ښکاره کړی دی.بيا په خاصه توګه د تحليل نفسي.دا يو داسي نظريه يا عمل دی چي هغه د ادب يا تخليق يو بل جواز وړاندي کوي. کومي دوې نظريې چي موږ يې ذکر وکړ د هغه څخه بېل نظر دی.هغه د ادب د جواز لپاره يوه اصطلاح کارولې وه چي ( Subsatellite gratification) متبادل اسودګي په نامه ياديږي .فرايډ تخليق کار ابنارمل (لېونی)انسان ګڼي.دی وايي چي د عامو انسانانو رنګه فنکار هم په ذهني الجهنو،هيجاني کيفياتو،پريشانيو او د ناآسوده خوائشونو په چکر کي راګير دی.د عام انسان په پرتله د ده حساسيت ډېر ژور وي چي د اروا‌پوهني په اصطلاح کي دې ته ضعف اعصاب (د کمزورو اعصاب) يا په انتهائي صورت کي دې ته اعصابي خلل هم ويل کيږي.فرايډ دا خبره ځکه کوي چي د جذباتو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-27

شدت د عام انسان په پرتله په تخليق کار کي زيات وي.کوم نااسوده خوائشات هغه که جنسي وي او که نور د دي د تسکين لپاره دی د حقيقي نړۍ څخه و خيالي نړۍ ته کډه کوي.دا اعصابي ستونزه انسان پر دي مجبوره کوي چي هغه يو داسي عمل تر سره کړي چي له هغه څخه دۀ ته تسکين ورسيږي.مختلف خلک دا تسکين د مختلفو لارو څخه تر لاسه کوي.ليکوال دا تسکين د ليک له لاري د تخليق په ذريعه تر لاسه کوي.دا د ادب بل جواز شو،چي يو تخليق کار تخليق تش په دې خاطر کوي چي د هغه له لاري دی ذاتي تسکين تر لاسه کوي.دا تسکين جنسي هم کيدای شي ذهني هم کيدای شي. په ټولنيز ژوند کي چي دی د کومو شيانو محرومه دی د هغه شيان په خيالي نړۍ کي تر لاسه کولو هڅه هم کيدای شي. له دې سره سره ځيني پوهان يې دا جواز هم وړاندي کوي.

"ادب د ژوند اصل خاصيت دی د دې په تخليق کي نه تش د اديب ذاتي تجربه شامله وي بلکي د ده د تيرو وخت (ماضي) ټوله سرمايه،د مستقبل تصورات تر دې حده چي کله کله د اديب سماجي مرتبه،اقتصادي حالت،ادبي شهرت او د قاري او مربي(سرپرست) غوښتني هم شامله وي.ځکه چي اديب په ټولنيزه سطح باندي په دې ټولو کي ژوند کوي په هم دې اساس د ادب يوۀ بنيادي غوښتنه دا هم ده چي اديب ذاتي تصورات، تاثرات او تعصبات به د ده له تخليق څخه داسي بيل نه وي چي لوستونکي د لوست پر وخت په احساس کمتري کي راګير کړي.(ډاکټر انور سديد،اردو ادب کي تحريکي،انجمن ترقي پاکستان،59،1983)"

له دې څخه موږ دا اټکلوو چي اديب او د اديب شعور،لاشعور،داخل،خارج،د دې ټول شيانو تعلق د ټولني سره اړه لري.کوم روايات،تعصبات،عقائد او داسي نور چي د اديب په شخصيت کي ځای پيدا کوي دا ټول د ټولني ورکړه ده.د اټول شيان دی له ټولني څخه اخلي او د شخصيت برخه يې ګرځوي.دی چي کله تخليق کوي هغه که د ده داخلي ضرورت وي که خارجي دا شيان به د ده د تخليق برخه وي.ټولنه د ده په تخليق کي باقاعده ونډه لري.دا بيل بحث دی چي په ادب کي جواز له کوم ځای څخه راځي موږ دلته د ادب په جواز خبره کوو.

له دې بحث څخه موږ دې پايلي ته رسيږو چي انسان ځيني جبلتونه لري چي هغه ده ته ورکول شوي دي.لوږه،تنده،نفس او داسي نور .دا د ده ضرورت دی چي د دې شيانو غم به خوري.ځان به مړوه وي تنده به ماتوي خوب به کوي نفسياتي خوائيشات به پوره کوي،که دا ونه کړي نو نه شي کولای چي د يو عام انسان غوندي عادي ژوند تير کړي.هم دارنګه د داخل اظهار هم يو جبلت دی چي په انسان کي پروت دی.د دې د پوره کولو لپاره هر انسان تخليقي لاري چاري لټوي چي په هغه باندي د دې جبلت تسکين وکړي چي په هغه کي

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-27

يوۀ لاره د ادب هم ده.دجذباتو د اظهار لپاره دا ترټولو مهذب او په ټولنه کي د قبول وړ لاره ده.ټول فنون لطيفه هم په دې زمره کي راځي.نو اوس چي دا خبره سپينه شوه چي د ادب جواز څکه شته چي دا د انسان ضرورت دی د هغه پس دا کتل دي چي ادب بايد څنګه وي؟ د هغه سوال دی چي په ادب کي د تيوري او نظرياتو بنياد ګرځي.ځيني خلګ يې د داخل و خوا ته مايله دي ځيني يې د خارج و خوا ته مايله دي هره ډله د خپل نظر لپاره قانع کونکي دلايل لري څکه په دې اړه ډيري ادبي تيورياني زموږ تر سترګو کيږي.

کتابیات

۱-سليم اختر.18
۲-(ائي اې رچرډز(The Meaning of meaning)"
۳-ارسطو،بوطيقا،ژباړه: عزيز احمد.39)"
۴-سډاکټر انور سديد،اردو ادب کي تحريکې،انجمن ترقي پاکستان،59،1983